


اوونیزه
ابادي
هفته نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼه: ۱۶ | مسلسل نمبر: ۵۸

شنبه، د محرم الحرام ۲۱مه، ۱۴۴۶ هـ. ق کال


## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري په کابل هوایي ډګر کې د معیاري انتظارخونې د بنسټ ډبره کېښودل شوه



۲ صفحه

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري د لایف پرَل د درمل جوړولو فابریکه پرانیستل شوه



۲ مه صفحه

## هېوادوالو ته د کاري فرصتونو رامنځته کول د اسلامي امارت لومړیتوب دی




۵ مه صفحه

# سرلیکنه



د کار ملي کنفرانس د زمري میاشتې په دوهمه نېټه د ارګ په سلام خانې ماڼۍ کې جوړ شوی و. په دې دوه ورځني کنفرانس کې د افغانستان اسلامي امارت لوړ پوړو مسوولینو، د ملي او نړیوالو بنسټونو او ځینو بهرنیو هېوادونو استازو ګډون کړی وو. د اسلامي امارت د مسوولینو او یو شمېر کارپوهانو له لوري د بې کارۍ د عمده لاملونو، اقتصادي وضعیت او خلکو ته د کار موندلو د حل لارو په اړه ویناوې وشوې. ټولو پر دې ټینګار کاوه چې په هېواد کې د بې کارۍ ستونزې ته باید پای ورکړل شي او خلکو ته کاري فرصتونه رامنځته شي.

بې کاري یوه ټولنیزه ستونزه ده چې انسانان له پخوا څخه بیا تراوسه ورسره مخ دي. نن ورځ په پرمختللو او د پرمختګ په حال کې هېوادونو کې مالي ستونزې ددې لامل ګرځېدلې دي چې په ټولنو کې د بې کارۍ او بې وزلۍ کچه لوړه شي. افغانستان هم یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د بېلا بېلو لاملونو له امله د بې کارۍ له ستونزو سره لاس او ګریوان دی. په افغانستان کې د بې کارۍ لاملونه ډېر دي خو عمده لاملونه یې کولای شو، اشغال، د تېرو حکومتونو ناکامه پلانونه، پر افغانستان د نړیوالې ټولنې له لوري ظالمانه بندیزونه، د نړیوالو بنسټونو له لوري د مرستو ځنډول، د مسلکي کاري ځواک نشتوالی، تېر وخت کې اقتصادي او جرمي مافیا، ناانډوله صادارت او ځینې نور یاد کړو. دا ټول هغه لاملونه دي چې په افغانستان کې یې د بې کارۍ کچه لوړه کړې او خلک یې له ګڼو اقتصادي ستونزو سره مخامخ کړي دي. اسلامي امارت هم ددې معضلې منفي بعدونه او ناوړه پایلې درک کړې دي. له همدې امله یې خپل ټول تمرکز پر همدې ستونزې ور ټول کړی دی. اسلامي امارت د بې کارۍ د کچې را کمولو له پاره یو شمېر بنسټیزې پروژې پخوا پیل کړې دي، د کانونو استخراج، د ترانزیټ او سوداګرۍ پراختیا، د صنعت او کرنې سکټور پر پښو درولو په برخه کې یې ګامونه پورته کړي دي. اوسمهال په کابل کې د کار ملي کنفرانس جوړول ددې هڅو یوه بله برخه ده. د کار ملي کنفرانس د یو ۳۲ ماده‌ییز پرېکړه لیک په صادرولو سره پای ته ورسېد، په یاد کنفرانس کې د ۱۵ امارتي ادارو ترمنځ د کاري فرصتونو او اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه یو شمېر هوکړه لیکونه هم لاسلیک شول. دغه راز په کنفرانس کې ژمنه وشوه چې د بېلا بېلو نویو پروژو په پیل سره به یو نیم میلیون کاري فرصتونه رامنځته شي. دا هغه ژمنه او تعهد دی چې اسلامي امارت په هېواد کې د بې کارۍ د پای ته رسولو او خلکو ته د کار موندلو په برخه کې کړی دی. په دې وروستیو کې د هېواد په ۱۲ ګمرکونو کې د برېښنایي سکنرونو نصبولو، د کابل په هوایي ډګر کې د یوې معیاري انتظار خونې جوړولو، مس عینک کان ته د غځیدلي سړک د چارو په پیل او په کابل ښار کې د درملو جوړولو فابریکې پرانیستې سره به زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د بې کارۍ ستونزې د بنسټیز حل له پاره پلانونه چمتو کړي او هڅه یې داده چې په راتلونکي دې ستونزې ته په بشپړ ډول پای ورکړي.

# د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال له لوري په کابل هوايي ډګر کې د معياري انتظارخونې د بنسټ ډبره کېښودل شوه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د اسد مياشتې په ځلورمه نېټه په کابل نړيوال هوايي ډګر کې د معياري انتظارخونې د بنسټ ډبره کېښوده. په دغو مراسمو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند سرپرست وزير ملا حميدالله اخوندزاده، د اقتصاد سرپرست وزير قاري دين محمد حنيف، د خصوصي سکتور استازو او د کابل نړيوال هوايي ډګر مسوولينو هم حضور درلود. پر دغه انتظارخونه د خصوصي سکتور له لوري ۲۹۰ ميليونه افغانۍ پانګونه کېږي، چې په ۱۸ مياشتو کې به يې چارې بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شي. دغه انتظارخونه د ۱۵۰۰ کسانو ظرفيت لري او د مسافرو لپاره ټولې اړينې اسانتياوې په پام کې نيول شوې دي. د يادونې وړ ده چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په هېواد کې د معياري ټرانسپورټي خدمتونو وړاندې کولو په موخه د روان ۱۴۰۳ لمريز کال په جريان کې شاوخوا ۳,۷ ميلياردو افغانيو په ارزښت ۴۳ بنسټيزې پروژې په پلان کې لري، چې په پلي کېدو سره به يې د ټرانسپورټ په برخه کې ډېرې اسانتياوې رامنځته شي.

# د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال له لوري د لايف پَرل د درمل جوړولو فابريکه پرانيستل شوه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د اسد مياشتې په ځلورمه نېټه د کابل په نهمه ناحيه کې د لايف پَرل د درمل جوړولو فابريکه پرانيسته او په فعاليت يې پيل وکړ. په دغو مراسمو کې د عامې روغتيا سرپرست وزير مولوي نور جلال جلالي، د اقتصاد سرپرست وزير قاري دين محمد حنيف، يو شمېر اماراتي مسوولينو او د خصوصي سکتور استازو هم حضور درلود. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وويل، باکيفيته درمل له صحي اړخه د سالمې انساني ټولنې ضمانت کوي او بې کيفيته هغه يې بيا ژوند ګواښي له کميت مخکې يې بايد کيفيت ته پوره پاملرنه وشي. محترم ملا صاحب زياته کړه، د درملو د توليد دا فابريکه به نه يوازې د هېوادوالو د صحي وضعيت لپاره ګټوره تمامه شي، بلکې د هېواد له اقتصادي ودې سره به هم لازمه مرسته وکړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پرمهال وويل، چې د دې فابريکې د فعاليت په پيل سره به هېوادوال د اړتيا وړ درملو ته اسانه لاسرسی پيدا او د درملو په برخه کې به شته اړتيا تر يوه حده له داخلي توليد څخه تأمين شي. د محترم ملا صاحب په خبره، په دې سره به د درملو واردات کم، په هېواد کې د درملو د توليد کچه لوړه او د درملو امنيت خوندي شي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د توليدي فابريکو مسوولينو ته د همکارۍ ډاډ ورکړ او له هغوی يې وغوښتل، چې د هېواد د اړتياوو په نظر کې نيولو سره دې له نړيوالو معيارونو سره سم باکيفيته درمل توليد کړي. په پای کې يوځل بيا د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال پر ټولو پانګوالو غږ وکړ، چې په افغانستان کې د پانګونې لپاره زمينه برابره شوې او دوی بايد له دغه فرصت څخه په استفادې د هېواد په بيارغونه او ابادۍ کې برخه واخلي. د يادونې وړ ده چې د لايف پَرل د درملو په توليدي فابريکه کې ۲۰ ميليونه ډالر پانګونه شوې چې د بېلابېلو درملو د توليد تر څنګ يې ۳۰۰ کسانو ته کاري زمينه هم برابره کړې ده.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او تـولنيزو مسايلـو په برخـه كـې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی

# معاون اقتصادی ریاست الوزراء: امارت اسلامی جهت ایجاد فرصت های کاری برای هموطنان خویش پروژه های اساسی را آغاز کرده



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء در کنفرانس ملی کار که سوم اسد ۱۴۰۳ خورشیدی در قصر سلام خانه ارگ برگزار شده بود، اشتراک و سخنرانی نمود.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند حین سخنرانی خود گفت، امارت اسلامی افغانستان با در نظر داشت منافع ملی کشور و احترام متقابل به آن آماده تعامل مثبت با همه کشورهای جهان است، از آنها می خواهد که تحریم های ظالمانه بانکی را که باعث مشکلات اقتصادی فراوان و افزایش سطح بیکاری در کشور شده است برداشته و به تعامل مثبت با امارت اسلامی افغانستان رو آورند.

محترم ملا صاحب افزود که امارت اسلامی افغانستان به عنوان یک نظام مسؤل و حاکم ارائه خدمات به موقع و بهتر را به شهروندان از مسؤلیت های خود می داند.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء همچنان گفت، امارت اسلامی مشکلات و نگرانی های مردم را نادیده نگرفته، بلکه همه مسئولین در تلاش هستند تا ضمن تسهیلات به شهروندان زمینه کار را نیز برای آنها فراهم نمایند. محترم ملا صاحب با اشاره به پروژه های اساسی آغاز شده در کشور گفت، امارت اسلامی کانال قوش تپه، حوزه نفتی آمو، بند بخش آباد و سایر پروژه های اساسی را آغاز کرده که ده ها هزار شهروندان ما در آن مشغول به کار هستند.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در جریان سخنرانی خود گفت که در بخش معادن گام های مثبتی برداشته شده است، علاقه مندی شرکت های داخلی و خارجی برای سرمایه گذاری در بخش معادن افزایش یافته و همچنان پروژه های مهم مورد تایید کمیسیون تدارکات ملی قرار گرفته که هزاران فرصت کاری جدید را نیز ایجاد نموده است. معاون اقتصادی ریاست الوزراء به حاضرین در کنفرانس ملی کار گفت، امارت اسلامی جهت تقویت رشد اقتصادی کشور و کاهش سطح بیکاری تلاش می نماید تا افغانستان را به نقطه اتصال آسیای جنوبی و مرکزی تبدیل، سطح تجارت را افزایش دهد، زمینه صادرات به محصولات داخلی مهیا، برای انتقال انرژی کار نماید، شبکه راه آهن را گسترش و علاوه بر آن سرمایه گذاران خارجی را برای سرمایه گذاری در افغانستان تشویق می نمایند. به گفته محترم ملا صاحب، تلاش در همه این موارد برای ایجاد فرصت های کاری مستقیم و غیر مستقیم است.

در دومین روز کنفرانس ملی کار، در حضور داشت ملا عبدالغنی برادر آخند، میان وزارت کار و امور اجتماعی، وزارت احیا و انکشاف دهات و همچنان اداره انسجام شرکت های امارتی به منظور ایجاد فرصت های جدید کاری تعدادی از توافقنامه ها نیز به امضاء رسید.

# سخنرانی معاون اقتصادی ریاست الـــوزراء در کنفرانـــس ملی کار



الحمد لله وحده والصلاة والسلام علی من لا نبی بعده؛

اما بعد؛

قال الله تعالی: و ان لیس للانسان ما سعی

**مسئولین محترم، مهمانان گرامی و حاضرین در تالار!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!**

بیکاری و فقر از جمله دو چالش از جامعه ماست که باعث مشکلات زیاد در جامعه شده و اقتصاد خوب جامعه چیزی است که این دو مشکل را برطرف نماید، فرصت های کاری مناسب و خوبی را فراهم و در تقویت اقتصادی کشور نیز نقش مثبت و موثری داشته باشد. امارت اسلامی افغانستان به عنوان یک نظام مسئول و حاکم در تمامی بخش ها ارائه خدمات بهتر، عادلانه و به موقع مسؤلیت خود می داند. با استفاده معقول و مؤثر از تمامی فرصت ها و ظرفیت های موجود برداشتن گام های ملموس و اساسی می تواند فاصله بسوی اهداف و پلان های مطلوب کوتاه تر سازد.

امارت اسلامی افغانستان مشکلات و دغدغه های مردم را نادیده نگرفته، بلکه مسؤلین در سطوح مختلف دائما مشغول انجام مکلفیت های خود به نحو احسن هستند و از سوی

دیگر برای ارائه خدمات بهتر و مناسـب بـه مردم اقدامات منطقی و به موقع انجام داده است.

**حاضرین محترم!**

با توجه به موقعیت جغرافیایی افغانستان؛ تلاش های لازم در حال انجام است تا با استفاده سالم و مثبت کشورمان به نقطه اتصال آسیای جنوبی و مرکزی تبدیل شود. سطح تجارت خود را بیش از هر زمان دیگری افزایـش دهیم، زمینه صادرات تولیدات داخلی را فراهم کنیم، بـرای انتقال انرژی تلاش کنیـم و از راه آهـن جهت کوتاه نمودن مسـافت و ایجاد تسهیلات برای تجاران ملی خود اسـتفاده کنیم، علاوه بر این، این یک دلیل برای تشـویق سرمایه گذاران خارجی و علاقمندی آنها به سرمایه گذاری در افغانسـتان اسـت. در تمامـی این مـوارد تلاش ما ایجاد اشـتغال مسـتقیم و غیرمستقیم است و امیدواریم در نتیجه بسیاری از شهروندان ما به ارائه خدمات و کار مشغول شوند.

**حاضرین گرانقدر!**

شما اگاه هسـتید که امارت اسـلامی افغانستان به منظور تقویت اقتصاد، خودکفایی کشور، کاهش سطح بیکاری و فقر و همچنان ایجاد فرصت های کاری برای مردم، تعداد زیادی از پروژه های اساسی و عام المنفعه را راه اندازی کرده است که برخی از آنها تکمیل و تعـداد زیادی از این پروژه ها زیر کار اسـت و کارمندان افغان ما شـبانه روز تلاش می کنند تا از امکانات موجود و محدود برای تعبیر خواب هایی که ناممکن یا دور از تصور خوانده می شد، استفاده نمایند.

شـما شاهد هستید که فاز اول پروژه ملی کانال قوش تپه به اتمام رسیده و کار فاز دوم آن با سرعت به پیش می رود، کار بند بخش آباد فراه جریان دارد، امور استخراج نفت آمو دریا به طور عادی دوام دارد، در بخش اسـتخراج معادن گام های مثبتی برداشته شده و علاقه مندی شرکت ها و کمپنی های داخلـی و خارجی بـرای سرمایه گـذاری در این بخش ها افزایش یافته است. بسیاری از پروژه های مهم در کمیسیون تدارکات ملی تایید می شود. اسعار ما در مقایسه با منطقه و کشورهای همسایه ارزش قابل توجهی را حفظ کرده است.

در تاریخ کشور این اولین بار است که بودجه ملی ما از عواید داخلی تامین می شـود و تمامی پروژه های فوق از این طریق و از این عاید عملی و اجراء می شـود. مبارزه قوی با فسـاد اداری صورت گرفته و کشت کوکنار به صفر تقرب نموده است.

پس از چند سـال محدود و اجرای این طرح های ملی که زمینه اشـتغال هزاران نفر را فراهم کـرده، من مطمئن هسـتم که در عرصه های اجتماعی، اقتصادی و سیاسی پیشرفت چشمگیری خواهیم داشت و شاهد افغانستان آباد خواهیم بود.

امارت اسـلامی افغانستان آماده اسـت تا با در نظر داشت احـترام متقابل و توجه بـه منافع ملی کشـور با تمامی کشـورهای جهان تعامل مثبت داشته باشد و در این راستا مسـؤلیت های خود را انجام داده اسـت. من از جامعه جهانی میخواهم که مشـکلات مردم افغانستان را درک و تحریم های ظالمانه بانکی را که مشـکلات زیادی ایجاد کرده اسـت برطرف نماید و وارد تعامـل مثبت با امارت اسلامی افغانستان شوند.

ما متعهد هسـتیم که تمامی راه‌ها و گام‌هایی را که منجر به آبادانی مردم و کشور و بهبود زندگی می‌شود، برداریم. با بهره گیری از تجربیات گذشـته، با عزم و اراده قوی در پیشرفت کشورمان تلاش بیشتری خواهیم کرد.

در پایان از رهبری و تمامی مسئولین و کارمندان وزارت کار و امور اجتماعی تشـکر و قدردانی می نمایم، آنها با نگاهی به معضـل بیکاری مردم خود به ویژه جوانـان اقدامی بزرگ و مثبت کردند و کنفرانس ملی کار را برگزار کردند و از این طریق می خواهند به مسؤلیت های خود در زمینه کاهش بیکاری و فقر عمل نمایند.

مـن از این کار قدردانی و حمایت مـی کنم، من از تمامی نهادهای امارتی و غیر امارتی، نهادها و سـازمان های بین المللی مستقر در افغانستان، بخش خصوصی و تجاران ملی تقاضا دارم، تا در این راسـتا با وزارت کار و امور اجتماعی از نزدیک کار و در راسـتای خدمات رسـانی به شهروندان به صورت مشترک فعالیت نمایند. ما نیز به سهم خود با همه شما بـه خصـوص وزارت کار و امور اجتماعی همـکار نزدیک هستیم.

تشکر از توجه شما

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي اوونيزه
هفته نامه آبادی

# د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال له لوري د مس عينک پروژې د سړک جوړولو چارو پرانيسته وشوه




د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د اسد مياشتې په دريمه نېټه د مس عينک پروژې د غځېدلي سړک د جوړولو چارو پرانيسته وکړه. په دغو مراسمو کې د کانونو او پټروليم سرپرست وزير ملا هدايت الله بدري، د اطلاعاتو او کلتور سرپرست وزير ملا خيرالله خواه، د چين هېواد د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستيال، په افغانستان کې د چين سفير، د مس عينک د قراردادي کمپنۍ (MCC) رئيس او تخنيکي ټيم، د خصوصي سکتور استازو، د سيمې اوسېدونکو او يوشمېر اماراتي مسوولينو هم حضور درلود.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال د مس عينک پروژه له مهمو او حياتي پروژو څخه وبلله او زياته يې کړه، د دې پروژې ډېر وخت ضايع شوی او اوسمهال پکار ده چې عملي کارونه يې پيل شي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د مس عينک پروژې د قراردادي کمپنۍ مسوولينو ته ډاډ ورکړ، چې د پروسس پر مهال د زهرجنو موادو د له منځه وړلو لپاره په افغانستان کې دننه کافي مواد موجود دي، دا ستونزه په بشپړ ډول حل شوې او د پروژې د عملي کار پر وړاندې هيڅ خنډ نشته. محترم ملا صاحب زياته کړه چې د پروژې لپاره يې د پيسو د انتقال په موخه د افغانستان بانک ته هدايت کړی، چې له قراردادي کمپنۍ سره لازمه همکاري وکړي.

په پای کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال قراردادي کمپنۍ ته د بشپړ امنيت تامين ډاډ ورکړ او ټول ملت ته يې د دغه لويې پروژې د يوې برخې د عملي چارو د پيل مبارکي ورکړه.




# هېوادوالو ته د کاري فرصتونو رامنځته کول د اسلامي امارت لومړيتوب دی

ليکوال: امان‌الله حنيفي

## سريزه

بې کاري هغه پديده ده چې د نړۍ په زياترو هېوادونو کې شته، خو د نړۍ په دريمه درجه هېوادونو کې چې افغانستان يې هم برخه دی، د بې کارۍ ګراف لوړ دی. معمولاً د نړۍ د دريمې درجې هېوادونو وګړي له بې کارۍ سر ټکوي، هلته د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په پرتله د ژوند سطحه ټيټه وي، غربت زيات وي او خلک يې نشي کولی د خپل ژوند لومړني اړتياوې په ښه ډول پوره کړي.

د بې کارۍ له وجې په يو هېواد کې بېلابېلې ستونزې را پيدا کېدلې شي، د بېلګې په ډول، په قاچاقي ډول خلک مهاجرت ته مخه کوي، د لومړنيو اړتياوو د پوره کولو په موخه يوشمېر خلک په ناامنيو لاس پورې کوي، د کار موندلو په موخه علمي کادرونه په نورو هېوادونو کې جذبېږي او دېته ورته نورې ستونزې ورسره را پيدا کېږي.

بې کارۍ مختلف ډولونه او لاملونه لري چې تقريباً په هره ټولنه او هر هېواد کې ځانګړې او يا هم له نورو متفاوت وي.

د بېلګې په ډول، په ځينو هېوادونو کې د بې کارۍ لوی لامل

فساد وي، په ځينو هېوادونو کې د ناامنيو له وجې ډېر خلک بې دندو وي او يا هم په ځينو هېوادونو کې بې کاري موسمي لاملونه لرلی شي.

د دولتونو يوه عمده دنـــده دا ده چې خلکو ته د ژوند په نورو برخو کې د اسانتياوو برابرولو ترڅنګ کار هم پيدا کړي او له دې لارې وکـولای شي خپل نظام او حکومتي سيســتم پياوړی کړي. واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره د دغه ســتونزې له منځه وړلو په موخه په تدريج سره ګامونه پورته شـــوي او ټوله هڅه دا ده، چې د بې کارۍ لاملونه پيدا او له منځه وړلو لپاره يې په اساسي ډول کار وشي.

موږ دلته د بې کارۍ کچې راکمولو په برخه کې د اســلامي امارت پر ترسره شوو هڅو لنډې خبرې کوو.

## په افغانستان کې د بې کارۍ لاملونه

افغانستان سره له دې چې په سيمه او نړۍ کې ځانګړې جيو اکانوميک، جيو پولوټيک او ســتراتيژيک موقعيت او پر هغه سربېره پرېمانه قيمتـــي معدنونه لري، بيا يې هم زيات خلک بې کاره وي او ځوان قشر يې د ژوند د لومړنيو اړتياوو پوره کولو په موخه په ســختو قاچاقي لارو بهرنيو هېوادونو ته سفرونه کوي .

د بې کارۍ د دې لويې ســتونزې يوه وجه په افغانستان کې تېرې څلور لســيزې جګړې او دلته د بهرنيو هېوادونو په خوښه د کـســانـــــو واک ته رسېدل دي. د تېرو شـــلو کلونو پر مهال مـــوږ وليدل چې افغانســـتان ته په ميلياردونو ډالـــر راغلل، خو د وخت د مســـؤولينـــو له لوري د نـــورو برخو ترڅنګ د بې کارۍ د له منځه وړلو په برخه کې هېڅ اساسي او بنيادي کار ونه شو. څومره پيسې چې افغانســـتان ته راغلـــې، ټولې د کابـــل تېرې اداري چارواکو د خپلو شخصي ګټو لپاره استفاده کړې.

د تېرو څلورو لســـيزو پر مهال د وخت د حکومتونو له لوري د هېواد د اقتصادي اتکا په موخه هېڅ اساسي پروګرامونه پلي نه شول. د دغه ډول پروګرامونو نه پلي کېدل په هېواد کې د بې کارۍ کچې زياتېدو يو اساسي لامل دی.

د اسلامي امارت له راتګ وړاندې په هېڅ برخه کې اساسي پانګونه نه ده شـــوې. د وخت چارواکو دا بستر نه دی برابر کړی څو کـــورني او بهرني پانګوال وشي کولای د هېواد په مختلفو ســـکټورونو کې پانګونه وکړي او له دې لارې کاري قشر ته د کاري زمينې برابرېدو تر څنګ د هغوی پر ظرفيت لوړونه هم کار وکړي.

افغانستان چې په سيمه کې ځانګړی ستراتيژيک موقعيت لري، د اسلامي امارت له راتګ وړاندې يې د وخت د چارواکو له لوري د ســـيمه‌ييز اتصال د وصل پر نقطې د بدلېدو لپاره هڅې نه دي ترسره شـــوې. افغانســـتان کولی شي له خپل جغرافيـــوي موقعيت څخه په اســـتفادې سره د ســـيمې په ترانزيټ او همدارنګه سوداګرۍ کې مهم رول ولوبوي، چې متاسفانه د وخت تېرو چارواکو دا کار نه دی ترسره کړی.

افغانســـتان چې پرېمانه طبيعي اوبه او د کرنې لپاره پراخې دښـــتې لري، د هېواد د اقتصادي ودې او له دې لارې د بې کارۍ کچې د له منځه وړلو په موخه ســـالمه اســـتفاده نه ده شوې. نن ورځ په نړۍ کې هغه هېوادونه خورا پياوړی اقتصاد لري چې خپلې اړتياوې په کور دننه له خپلو سرچينو پوره کولی شي. موږ په کور دننه پرېمانه طبيعي اوبه، د کرنې لپاره پراخې دښتې او د مالدارۍ لپاره تر ټولو ښه چاپېريال لرو چې له بده‌مرغه هېڅ اساسي ګټه مو نه ده ترې اخيستې.

سره له دې چې افغانستان د نړۍ په کچه يو له هغو هېوادونو څخـــه دی چې د کانونـــو له پلوه غني دی، خـــو د کانونو د راايستلو په برخه کې يې د پام وړ کار نه دی شوی. د اسلامي امارت له راتګ وړاندې په ټول هېواد کې په مســـلکي ډول کان کيندنه نه ترسره کېده، سيمه‌ييزو زورواکانو د خپلو سيمو پر کانونو خېټه اچولـــې وه او يوازې يوې محدودې کړۍ په يـــادو کانونو کې هغه هم په غير مســـلکي ډول د کار کولو فرصت پيدا کړی و .

د وخـــت د تېرو چارواکو له لوري د خصوصي ســـکټور هېڅ اســـاسي او بنيادي ملاتړ نه دی شوی. خصوصي سکټور د کاري فرصتونو د رامنځته کولو په برخه کې فوق‌العاده مثبت رول لوبوي. نه هغوی ته اسانتياوې برابرې شوې او نه يې هم د سر او مال امنيت خوندي شوی و چې دغه سکټور وده کړې وی. د دې ترڅنـــګ يـــو لړ نـــور لاملونه هم شـــته چې په افغانستان کې يې د بې کارۍ کچه لوړه کړې ده.



## د بې کارۍ کچې د راکمولو په برخه کې د اسلامي امارت ترسره شوې هڅې

د اســـلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې يو خپلواک مرکزي حکومت رامنځتــه او په ټول هېواد کې سرتاسري امنيت تأمين شـوی دی. د دغه فرصت په رامنځته کېدو سره په هېواد کې د ټولو ستونزو چې يوه يې بې کاري ده، د حل کېدو فرصت برابر شـوی دی. اســلامي امارت له همدې فرصت څخه د ښــې استفادې په هدف په جديت سره هڅې پيــل کړې دي، څو هېوادوالــو ته په بېلابېلو سکټورونو کې د کار زمينه برابره کړي.

اســـلامي امارت هېوادوالو ته د کاري زمينې د برابرېدو په موخه په ټول هېواد کې د کانونو مسلکي استخراج ته مخه کړې ده. د کانونو او پټروليم وزارت د شـمېرو له مخې، د اســـلامي امارت په راتګ سره په ټول هېواد کې د شاوخوا ۲۰۰ کوچنيو او متوســـطوکانونو استخراج او پروسس پيل شوی او همدا راز د ۴۹۳ کانونو د سروې چارې هم بشپړې شوې چې د استخراج په پيل سره به يې زرګونو هېوادوالو تــه کاري فرصتونه برابر شي . پر دې سربېره د يوشــمېر لوی مقياس کانونو قراردادونه لاسليک شوي چې د کورنيو او بهرنيو شرکتونو له لوري د لســګونو ميلياردو افغانيو په پانګونې سره بهزرګونــو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر کــړي . د دغو کانونو له جملې د آمــو نفتي حوزې د تېلو اســتخراج، د هرات اوسپنې کان د څلور بلاکونو، د غور د تولک د سرپو کان او همدا راز د تخار د ســمتي سرو زرو کان قراردادونو د لاسليک يادونه کولی شو.

د اســـلامي امارت په راتګ سره د لويو بنسټيزو پروژو پيل بله هغــه هڅه ده چې زرګونــو هېوادوالو تــه يې کاري فرصتونه رامنځته کــړي دي. په دغه برخه کې د کابل – کندهار او ســالنګ لويو لارو بيارغونــې، د هرات – غور حلقوي ســـړک د جوړو چارو پيل، د کندهــار – ارزګان ســـړک اســاسي جوړونــې، د بخش آباد، کــمال خان، پاشــدان، چک بند، مانوګۍ، شــاه و عروس، توري، اغا جان، ســلطان ابراهيم بندونو او همــدا راز په ټول هېواد کې د سلګونو چک‌ډيمونو جوړېدل او له دې ټولو سره سره



د قوش‌تېپې ملي کانال هغه لويې پروژې دي چې زرګونو هېوادوالو ته يې کاري فرصتونه برابر کړي. همدا اوس د قوش‌تېپې ملي کانال د دوهم فاز چارې نږدې ۵۸ سلنه پر مخ تللې چې ۳ زره ماشينري او ۳۵۰۰ کسان پکې په کار مصروف دي .

د ملي تدارکاتو کمېســيون له لوري په لسګونو مهمې او بنســـټيزې پروژې منظورې او عملاً يې کارونه پيل شوي دي. يوازې د تېر ۱۴۰۲ لمريز کال پر مهال ۱۶۲ بنسټيزې پروژې د ملي تدارکاتو کمېســيون له لوري منظورې شوې دي. دغه پروژې په مختلفــو ولايتونو کې تطبيق کېږي چــې د ۴۰ ميليــاردو افغانيو په لګښــت سره يې زرګونه هېــوادوال پر کار مصروف کــړي دي . پر دې سربېره د روان ۱۴۰۳ لمريــز کال پــر مهال هم د مــلي تدارکاتو کمېسيون له لوري لسګونه پروژې منظورې او د ډېريو يې عملي چــارې روانې دي چې په ســلګونو کســان پکې مصروف دي.

د اسلامي امارت په راتګ سره ډېری امارتي شرکتونه چې لــه دې وړاندې يې فعاليت په ټپه ولاړ و اوس بېرته فعال او په مختلفو برخو کې توليدات کوي. د کندوز سپين زر، د هرات سيلو، د هلمند بست پنبه او نباتي غوړي، مرکزي سيلو، افغاني لاسي صنايع، افغان کارت، د بلخ سيلو، ملي بس، د کندهار نساجي، ارزاق، د افغانستان تېل او ګاز، د بلـخ پنبه او نباتي غـوړي، د بغلان د بـورې فابريکه او يوشمېر نور هغه شرکتونه دي چې اوسمهال پکې شاوخوا ۵۰ زره کسان په کار مصروف دي .

پر دې سربېره د امارتي شرکتونو د انسـجام خپلواکه اداره په پام کې لري چــې د قوش‌تېپې په ملي کانال کې د يو ميليون جريبه مساحت په درلودو سره کرنيز کمپلکس جوړ کــړي. په دغه تحقيقاتي مرکز کې به د شــاوخوا ۱۰۰ زرو کسانو ته د کار زمينه برابره شي .

هېوادوالو تــه د کاري فرصتونــو برابرولــو او د هېواد د اقتصــادي ودې د پياوړتيــا په موخه اســلامي امارت د خصوصي ســکټور بشپړ ملاتړ کړی دی. د دغه سکټور د ملاتړ په موخه اســلامي امارت په ټولو هغو وارداتي توکو ګمرکــي تعرفې لوړې کــړې دي چې هغه پــه کور دننه توليدېږي. خصوصي سکټور اوسمهال د نړۍ هېوادونو ته په ۸۰ برخو کــې صادرات لري چــې د فعاليت کچې په پراخېدو سره يې زرګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شوي.

له دې ورهاخوا اســلامي امــارت د زېربنا رغولو او له دې لارې هېوادوالــو ته د کاري فرصتونو برابرولو په برخه کې کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته د پانګونې اسانه شرايط

رامنځتـــه کړي دي. پـــه همدې موخه د رياســـت‌الوزراء اقتصـــادي معاونيت تر چتر لاندې د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې د پانګونې لســـګونه طرحې د مالي، اقتصادي او تخنيکي ارزونې وروسته تاييد او د اقتصادي کمېسيون له لوري منظورې شوې دي، چې ټبه بېلګه يې د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د اســـد مياشتې په شـــپږمه نېټه د اتو ميلياردو افغانيو په ارزښـــت د هېواد پـــه ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د الکترونيکـــي ســـکنرونو د نصب طرحه وه، چې شـــاوخوا ۲۰۰۰ کسانو ته پکې د کار زمينه برابره شوې . د پانګونې د لســـګونو تاييد او منظور شـــوو طرحو لـــه مخې زرګونو هېوادوالو ته په مســـتقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه برابره شوې.

د اســـلامي امارت له لوري د صنعت‌کارانو د ملاتړ په پايله کې ســـلګونو نويو توليـــدي کارخونو د فعاليـــت جوازونه اخيســـتي، چې ټبه بېلګه يې د اســـلامي امارت له راتګ وروسته د نمونې په ډول په کندهار ولايت کې د ۳۰۰ نويو توليـــدي کارخونو د کاري جوازونو اخيســـتل دي. د دغو کارخونو لـــه جملې يې ۱۸۰ اوســـمهال فعاليت لري چې ۴۵۰۰ کســـانو ته يې کاري فرصتونه برابر کړي دي . پر کندهار سربېره په لغمان کې ۵۰ نويو توليدي کارخونو فعاليت پيل کـــړی او پر هغه سربېره په هرات کې ټولټال ۱۰۰۰ توليـــدي کارخونـــې فعاليـــت لري چـــې زرګونه هېوادوال پکې په کار مـــصروف دي. دېته ورته په ډېريو ولايتونو او صنعتي پارکونو کې د اسلامي امارت په راتګ سره لســـګونو او سلګونو نويو او پخوا په ټپه ولاړو توليدي کارخونو فعاليـــت پيل کړی دی، چې لـــه امله يې زيات شمېر هېوادوال په کار او دندو ګومارل شوي دي.

له دې ټولو سره سره د افغانســـتان اســـلامي امارت د کار او ټولنيزو چارو وزارت د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د اسد مياشتې په دوهمـــه او درېيمه نېټه د بې‌کارۍ د لاملونو څېړنې او کاري فرصتونو د رامنځته کولو په موخه د کار ملي کنفرانس جوړ کړ، چـــې د دغه کنفرانس پر مهال د ۱۵ حکومتي ادارو تر منځ د کاري فرصتونو او اســـانتياوو رامنځته کولو په موخه بېلابېل هوکړه ليکونه لاسليک شول. د دغو هوکړه ليکونو له مخې به پـــه راتلونکو پنځو کلونـــو کې نږدې يو نيـــم ميليون کاري فرصتونه رامنځته شي .

له دې برخو ورهاخوا اسلامي امارت کوښښ کوي چې په مختلفو برخو کې هېوادوالو ته کاري فرصتونه رامنځته او د بې کارۍ موجوده کچه له منځه يوسي.

## پايله

د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره په لومړيو کې د بې کارۍ کچه زياته شـــوه او هغه هم پر افغانستان د امريکا او ملګرو ملتونو له لوري د مالي او بانکي محدوديتونو له امله وه. واک ته د اســـلامي امارت له رسېـــدو وروســـته نړيوالو په افغانســـتان کې خپلې ټولې پروژې بنـــدې کړې، بشري او پرمختيايي مرســـتې يې وځنډولې او پر هغـــه سربېره يې د افغانستان ملي شـــتمني کنګل کړه چې له امله يې زرګونه هېوادوال بې دندو شول.

خو د افغانســـتان اسلامي امارت له دې ټولو بنديزونو سره سره بيـــا هم پـــه مختلفو برخو کې چې پورتـــه يې يادونه وشـــوه، هېوادوالو ته لســـګونه زره نـــوي کاري فرصتونه رامنځته کړل او لا هم هڅه کوي چې د بې کارۍ موجوده کچـــه راټيټـــه او په تدريـــج سره يې لـــه منځه يوسي. اوســـمهال ډېری هېـــوادوال په کـــور دننه پـــه مختلفو سکتورونو کې په کار مصروف دي او خپل ورځنی ژوند په ښه ډول مخکې بيايي.

تمه ده چې په نـــږدې راتلونکي کې بـــه د کار قانون په توشيح کېدو سره د بې کارۍ کچه نوره هم راټيټه شي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده سـرای کې د افغانی پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۷۰,۸۷؋ | ۷۰,۹۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲٤٥؋ | ۲٤٥؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۲۸؋ | ۱,۲۸؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷٦,۷٥؋ | ۷٦,۷۸؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۸۲؋ | ۰,۸۲؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۸٤٦؋ | ۸٤۷؋ |
| ۱ | انګليسي پوند | ۹۰,۷۸؋ | ۹۰,۸۲؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۸,۸۹؋ | ۱۸,۹۰؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۳۰؋ | ۱۹,۳۰؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۷٦؋ | ۹,۷۷؋ |

